د لوړو زده کړو وزارت

بُست پوهنتون

د ښوونې او روزنې پوهنځی

# د ښوونې او روزنې پوهنځی پنځه کلن ستراتیژیک پلان

# ۱۴۰۱-۱۴۰۵ ل ل

# 2022-2026 ز

تحصیلي کال: ۱۴۰۱ ل ل

# لړلیک


د پوهنځی د رئیس پیغام 3

د ښووني او روزني پوهنځی ستراتیژیکي برنامې چوکاټ 4

مقدمه: 5

د ښووني او روزني پوهنځی لیرلید (Vision): 6

د ښووني او روزني پوهنځی ماموریت(Mission): 6

د ښووني او روزني پوهنځی د استادانو پېژندنه:Error! Bookmark not defined.

بنسټیز ارزښتونه(Core Values) 6

ستراتیژیکي موخې(Strategic Goals) 6

د ښووني او روزني پوهنځی د (SWOT) تحلیل: 7

د ښووني او روزني پوهنځی قوي اوکمزوري ټکي، فرصتونه او تهدیدونه: 7

(IFEM) Internal Factor Evaluation Matrixد داخلي عواملو د تحلیل ماټریکس: 8

(EFEM) External Factor Evaluation Matrixدخارجي عواملو د تحلیل ماټریکس: 8

د داخلي عواملو د لومړیتوبونو ماټریکس 9

د خارجي عواملو د لومړیتوبونو ماټریکس 10

د داخلي او خارجي عواملو مقایسه 10

د ستراتیژیک حالت ټاکنه 11

د ستراتیژیو د لومړیتوب ټاکنه 11

د ښووني او روزني پوهنځی ستراتیژیک پروګرامونه.Error! Bookmark not defined.

حکومتولي: 12

د رهبری پروګرامونه: 13

د فساد پر ضد مبارزه: 14

اداري بیروکراسي: 14

د عملیاتي پلان تائیدول: 14

د څارني او ارزوني پیاوړي کول: 15

د توامیتونو پراختیا: 15

د مرستو جلبول: 16

د جنډر مسایل: 16

د عمده ستراتیژیکو موخو د لاسته راوړلو لپاره اټکل سوی پلان:Error! Bookmark not defined.

علمي او اکاډمیک پروګرامونه: 16

په علمي کادرکي د ور او مسلکي استادانو د ونډې پراخوالی: 17

د علمي کادري غړو ظرفيت لوړول: 17

د نوو څانګو ایجادول: 18

د جواز لرونکو څانګو فعالول: Error! Bookmark not defined.

د علمي مجلې فعالول: 18

علمي څېړنه او پلان جوړونه: 18

د نصاب پراختیا: 19

د کیفیت تضمین او اعتبار ورکول: 20

د کتابتون معیاري کول: 20

د اداري تشکیلاتو بشپړول: 21

د هیواد په کچه د بیلابیلو پوهنتونو د ښوونې او روزنې پوهنځیو / ادارو سره د تفاهم لیکونو لاسلیکول:........................................................22

د ولایت په کچه د پوهنې له نظام سره همکاري: 22

د بریښنايي زده کړو پروګرامونه: 23

له تکنالوژۍ څخه استفاده: 24

د عوایدو راټولول: 24

نړیوال فعالیتونه: 25

لوړو زده کړو ته لاس رسی: 25

په اسلامي چوکاټ کې و لوړو زده کړو ته د ښځینه محصلینولاس رسی: 26

د کریډیټ سیستم پیاوړتیا او پلي کول: 26

د زده کړیالانو لپاره د خدماتو او اسانتیاوو پیاوړي کول: 27

زیربناوې: Error! Bookmark not defined.

د پوهنځی موخې او اهداف: 28

د کلیدي کړنو او شاخصونو په نظر کې نیولو سره د پوهنځی ستراتیژیک اهداف او موخې ټاکل:...............................................................28

خطرات: 29

د چاپیریال اغیزې: Error! Bookmark not defined.

په افغاني ټولنه کې د ښوونې او روزنې پوهنځی رول: 29

اکشن پلان 30

د بودجې تدوین Error! Bookmark not defined.

څارنه او ارزیابي: 35

پایله: 36

تصویب او تائید: 36

**د پوهنځی د رئیس پیغام:**

د ننني نړۍ هغه بې ساري پرمختګونه چې زموږ او ستاسې د سترګو په وړاندې دي، دا ټول پرمختګونه یوازې د عصري علمي پرمختګ پرمټ رامنځته سوي دي او لا هم نړۍ ورځ تر بلې د علم له برکته د پرمختګونو هلې ځلې کوي.

پوهنتونونه د لوړو او مسلکي زده کړو د خپراوي، ترویج او پراختیا اصلي مرکزونه ګڼل کیږي. چې د علم، پرمختګ، څېړنو او انسانیت مینوال او زده کړیالان په کښې د علمي ظرفیت لوړوني او علمي لاسته راوړنو لپاره بېلابېلو طریقو او میتودونو په لاره اچولو سره غواړي د خپل ژوندانه ستر اهداف ترلاسه کړي. د هیواد او نړۍ په کچه ټول اکاډمیک مرکزونه د بیلابیلو مسلکي رشتو په درلودلو سره د عصري علومو په بیلو برخو کې د خپل مسلک مطابق د هیواد او نړۍ د راتلونکي نسل د سالمې روزنې په موخه فعالیت تر سره کوي.

ښکاره خبره ده چې په ننني نړۍ کې هره اداره یا سازمان د خپل فعالیتونو د منظم او ترتیب لپاره د یوې مؤثري ستراتیژۍ له مخې خپل لنډ مهال، اوږد مهال او بنسټیز اهداف په ښه او مؤثر ډول لاسته راوړي نه یواځې دا چې پراختیا او پرمختیا تر لاسه کوي بلکې د خپل فعالیتونو پر وړاندې راتلونکي او ممکنه خطرونه هم له منځه وړلای سي.

د بُست پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی چې په ۱۳۹۹ل ل کال کې یې په فعالیت پیلکړی دی، یو شفافه، قانون ته ژمنه، باکیفیته او د ښو خدماتو ارایه کوونکې اداره ده د دې لپاره چې خپل بنسټیز او اوږد مهاله اهداف په ښه او مؤثر ډول پر تاکلي وخت تر لاسه کړي او خپله علمي او اداري پراختیا او پرمختیا یقیني کړي، لازمه مو وبلله چې یوه بشپړه کارنده پنځه کلنه ستراتیژي ترتیب کړو.

د ښوونې او روزنې پوهنځی پنځه کلن ستراتیژیک پلان چې په ۷ برخو کې تر ۲۵ زیات ستراتیژیک پروګرامونه لري او ټوله اړخونه یې عیني شرایطو، د پوهنځی موجوده وضعیت او واقعتونو ته په کتو ترتیب سوي. د ښوونې او روزنې پوهنځی د ستراتیژیک پلان فرعي کمېټې او ټوله پرسونل د هلو ځلو نتیجه ده چې په ډېر زحمت او اخلاص سره یې د خپلو فعالیتونو پر محور کرځنده پنځه کلنه ستراتیژیکه برنامه ترتیب او د عمل ډګر ته وړاندې کړه.

په پای کې د بُست پوهنتون د قدرمنې رهبرۍ په شمول د ټولو هغو اشخاصو او اداراتو څخه د زړه له تله مننه کوم، چې د دې ستراتیژیک پلان په ترتیب، تدوین او چمتو کولو او د معلوماتو په تهیه کولو کې یې زموږ لاسنوی کړی او موږ یې حمایه کړي یو تر څو د خپلو راتلونکو اهدافو یو هر اړخیز کارنده پلان ترتیب کړو.

د یو اباد، سر لوړي، سولئیز، پر مختللي او علم پروره افغانستان په هیله!

په درنښت

نقیب الله حمزه

د ښوونې او روزنې پوهنځی سرپرست

## د ښووني او روزني پوهنځۍ ستراتيژيکي برنامې چوکاټ

مقدمه: د پوهنځۍ معرفت، د پوهنځۍ فعاليتونه او د پوهنځۍ مخکنۍ ستراتيژياني

↓

د ليرليد ځرکندول.

د ماموريت ځرګندول.

د ارزښتونو ځرګندول.

د ستراتيژيکو موخو ځرګندول.

↓

د محيطي عواملو مطالعه او د لوړو زده کړو وزارت د ستراتيژيکو برنامو لومړيتوبونه

↓

د داخلي او باندني عواملو پيژندنه. ( قوي ټکي، کمزوري ټکي، فرصتونه او تهديدونه)

د لوړو زده کړو وزارت لومړيتوبونه:

حکومتداري، علمي او اکاډميکي چاري، لوړو زده کړو ته لاس رسی او ودانيز کارونه

↓

د ممکنه ستراتيژيو انتخاب

د ستراتيژيو د لومړيتوب ټاکنه

د ستراتيژيکو برنامو د لومړيتوب ټاکنه

د لنډ مهاله موخو ټاکنه

↓

کلنۍ عملياتي برنامه

د بوديجې تدوين او مالي برنامه

د پوهنځۍ د رهبري د سبک ټاکنه

د سرچينو تنظيم او تخصيص

د اجرايوي پاليسيو تدوين

↓

د ستراتيژيکي برنامې نظارت او ارزيابي

د تدوين مرحله

د اجرا مرحله

د ارزيابي مرحله

**مقدمه:**

بُست پوهنتون د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د ۱۳۹۱/۱/۲۸ل کال د ۴۸۷ گڼه حکم او خصوصي پوهنتونو او د لوړو زده کړو د مؤسساتو ریاست د ۴۴ گڼه پر بنسټ په ۱۳۹۱/۲/۴ ل کال د هلمند ولایت په لشکرگاه ښارکي د لوړو زده کړو مؤسسې په چوکاټ کې تاسیس او په خپل اکاډمیک فعالیت یې پیل وکړ.

بُست پوهنتون د لوړو زده کړو د وزارت د ۱۳۹۳ ل کال په ارزونه او کتنه کې چې د هیواد د ۸۰ څخه زیاتو د لوړو زده کړو خصوصي مؤسیسو په ۲۷۵ پوهنځیو کې ترسره سوې وه د ۸۸،۸ نمرو په ترلاسه کولو سره په ښه درجه تر ټولو لومړی مقام خپل کړ.

په ۱۳۹۴ ل کال کې د لوړو زده کړو وزارتد ۱۳۹۴/۶/۲۱ل کال د ۵۴۶۱/۳۱۲۵ گڼه حکم په اساس یې پوهنتون ته ارتقا وکړه چې د لوړو زده کړو د وزارت سره ۱۳۹۴/۶/۲۱ل کال د ۱۶ مسلسل نمبر او ۶۸۳ نمبر ثبت او راجستر دی.

دا چې د ښوونې او روزنې پوهنځی د دې بنسټ یوه فعاله او پر معیار برابره برخه ده. نوموړې پوهنځی په ۱۳۹۷ کال کې د فعالیت جواز ترلاسه کړی اوس مهال د شپږو څانگو د فعالیت جواز لري. چې عبارت دي له پښتو، دري، کیمیا، فزیک، بیولوژي، چاپیریال ساتنه او اسلامي فرهنگ. چې اوس مهال په نوموړې پوهنځي کې یوازې د پښتو څانگه فعالیت لري. چې تر دې مهاله یې په دوو کانکورونو کې په مختلف شمیر محصلین جذب کړي.

یاده پوهنځی له کیفي پلوه مشبوع ده. خو له کمي پلوه نورو علمي کادرونو ته هم اړتیا لري، د یادولو وړ ده چې اوس مهال په دغه پوهنځي کې (۵) تنه استادان په تدریسي برخه کې شتون لري. عملاً تنظیم سوی درسي نصاب لري، دفتري لوازم، فرنیچر، د دفتر د دوسیو سیستم، لیرلید او ماموریت یې چمتو سوي دي، استادان د پوهنځی او پوهنتون په مهمو کمیټو کې غړیتوب لري.

د پوهنځي د بهبود او پرمختگ لپاره د څوانو علمي کادري غړو او اداري پرسونل نه سرې کیدونکي هلې ځلې رواني دي او چارې یې په ښه منظمه توگه سمبالیږي. د چارو د لاښه تنظیم او د اداري د کرندي پرمختگ لپاره د یو ستراتیژیک پلان او برنامې موجودیت ته جدي اړتیاده. څرنگه چې ستراتیژي باید د پوهنتون، پوهنځی او حد اقل د څانگي په سطحه جوړه سي او هره پوهنځی باید یو ځانگړی پلان او ستراتیژي ولري. خو د ځان ارزوني کمیټې د تاکید او توصیې په اړه په همدې منظور د پوهنځی علمي شورا مناسب وبلل چې یو ستراتیژیک پلان د لارښود سند په توگه تدوین کړي. چې وروسته د هغې مطابق اجرآت پر مخ یووړل سي.

دا ستراتیژیک پلان د پوهنځي د موجوده داخلي او بېروني وضعیت د تحلیل او څېړني ترڅنگ مؤثري ستراتیژیاني او ستراتیژیک پروگرامونه لري په ښه ډول یې بودیجه ریزي سوې او د عمل پلان تر څنگ یې د ارزوبابی او تطبیق لپاره هم لارښووني شتون لري په ټوله کې په دې ستراتیژیک پلان کې په لاندي اووه (۷) برخو کې تر ۲۵ زیات ستراتیژیک پروگرامونه ځای پر ځای سوي:

- **زیربنایي پراختیا**
- **مالي او اداري پراختیا**
- **علمي او څېړنیزه پراختیا**

- د ښه حکومتولۍ پراختیا
- لوړو زده کړو ته د لاس رسي پراختیا
- د ټولنې په پرمختګ کې د ونډې زیاتوالی
- د نړیوالو فعالیتونو پراختیا

**د ښوونې او روزنې پوهنځی لیرلید (Vision):**

د بُست پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی به د لوړو زده کړو، نیمه لوړو زده کړو او معارف لپاره د مسلکي کادرونو په روزلو او همداراز به په ښوونیزه، روزنیزه او څېړنیزه برخه کې د هیواد په کچه تر ټولو مخکښ وي.

**د ښوونې او روزنې پوهنځی ماموریت(Mission):**

د بُست پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی د معاصر علمي پرمختګ، میتودولوژي او تکنالوژي په وسیله به محصلینو ته د وخت او زمان مطابق ښوونې او روزنې وړاندې کوي. د ټولنې د نا انډوله ستونزو په پام کې نیولو سره به د جامعې د ښوونیز حالت د ودې او پرمختګ په موخه به علمي څېړنې او کړنې ترسره کوي. ښوونیز او روزنیز اصولو ته ژمن، په عصري علمیت، مهارتونو او میتودونو سمبال فارغان به د ښوونیزو مراکزو د پرمختګ لپاره ټولنې ته وړاندې کوي.

**بنسټیز ارزښتونه (Core Values)**

1. ټولنیز عدالت.
2. د تبعیض نه شتون.
3. نوښت او پرمختګ.
4. کاري اهدافو ته ژمنتیا.
5. د ټولنیزو، ملي او اسلامي ارزښتونو درناوی.
6. مسلکیتوب.
7. د قانون تر چتر لاندې شخصي، مسلکي، فکري او د بیان آزادي.
8. شفافیت او د اداري فساد څخه مخنیوی.
9. سالم مدیریت او سالمه رهبري.
10. د قانون، مقررو او اوصولو رعایت.
11. د کیفیت ارتقاء.
12. د جنډر برابري.

**ستراتیژیکي موخې(Strategic Goals)**

1. د اوس په پرتله د څو چنده محصلینو جذبول.
2. د نوو څانګو ایجادول.

3. د علمي تحقیقاتو زیاتول.
4. تر راتلونکو پنځو کلونو پورې د علمي همکاریو په موخه له پنځو ملي او نړیوالو پوهنتونو سره د تفاهم لیکونو لاسلیکول.
5. د (۳۰-۵۰) سلنه ماستر او دوکتور استادانو درلودل.
6. د کیفیت د لوړاوي په برخه کې د اکاډمیک اعتبار اخیستل او نړیوالې درجه بندی ته داخلیدل.
7. د علمي مجلې ایجادول.
8. د نړیوالو فعالیتونو تر سره کول.
9. د ښوونې او روزنې پوهنځی او څانګو لپاره د یو معیاري کتابتون ایجادول او غني کول.

**د ښوونې او روزنې پوهنځی د (SWOT) تحلیل:**

دا چې ستراتیژیک پلانونه د علمي پروکراومونو ستراتیژیکي موخې ټاکي او همدغو موخو ته د رسیدو لپاره مسیر او اروند لازمي کړنې په نښه کوي. موخې ته رسیدل تر هغه شونې نه دي چې ترڅو علمي پروګرامونه خپله پیاوړتیا،کمزورتیا،فرصتونه او تهدیدونو څخه ځان خبر نه کړي او پر لاملونو یې غور ونه کړي.

نو د دې لپاره چې پوهنځی د پورته ذکر سویو ټکو په اړه پوره معلومات له ځانه سره ولري،نو لازمه ده،چې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره خپل معنوي او فزیکي انځور خپلې مخې ته وړاندې کړي.خپلې ټولې مادي او معنوي زیرمې په هر اړخیزه توګه و ارزوي تر څو په نتیجه کې یې د راتلونکو پرمختګونو او موخو ته د رسیدو بشپړ پلان ولري.

موږ د دې کړنې د تر سره کولو لپاره پنځه ډوله پوښتنلیکونه ترتیب کړي دي، چې د هغوی له جملې څخه د رهبري، اداري کامندانو، استادانو، محصلینو او بهرني سهمدارانو پوښتنلیکونه ترتیب او هرې برخې ته استول سوي دي، چې د ټولو تحلیل او ارزیابي وروسته تر سره کیږي.

**د ښوونې او روزنې پوهنځی قوي اوکمزوري ټکي، فرصتونه او تهدیدونه:**

| قوتونه | ضعفونه |
|---|---|
| 1. د باتجربه استادانو شتون<br>2. د ښو تدریسي امکاناتو شتون<br>3. کم فیس<br>4. د مجهز کتابتون شتون | 1. کمزوری جذب<br>2. د لوړ رتبه استادانو نه شتون<br>3. د کادري سیستم نه شتون<br>4. د علمي څېړنو کموالی |
| **فرصتونه** | **تهدیدونه** |
| 1. د عالي دارالمعلمین شتون<br>2. کم فیس<br>3. معیاري تدریسي امکانات<br>4. مسلکي استادان | 1. د محصلانو کم جذب<br>2. ناسم امنیتي شرایط<br>3. په ملي سطحه اقتصادي بحران<br>4. د کادري استادانو نه شتون |

**د لوړو زده کړو وزارت د ملي ستراتیژیک پلان لومړیتوبونه:**

لاندې لومړيتوبونه د لوړو زده کړو وزارت په ستراتيژيک پلان کې په نښه سوي دي چې د ښووني او روزني پوهنځی به يې په خپلو ستراتيژيکو برنامو کې په پام کې وساتي.

**حکومتداري:** مديريت او رهبري، مالي، اداري او اکاډميک استقلال، له فساد او بيروکراسۍ سره مبارزه، د همکاريو زياتوالی، د کمکونو جذبول، د جنډر مسائيل او د پوهنتون د بوديجې زياتوالی.

**اکاډميک پروګرامونه:** د علمي کادرونو او کارمندانو د ظرفيت لوړول، د مطالعاتو او څېړنو د پروګرامونو پراختيا، د ماسترۍ او دوکتورا پروګرامونه، د کريکولم پراختيا، د ظرفيتونو لوړوالی او د کيفيت د تصديق کسب، د بازار د اړتياوو مطابق د درسي موادو اماده کول، الکترونيکي زده کړې، تکنالوژيکي پراختيا او اطلاعاتو ته لاس رسی.

**لوړو زده کړو ته لاس رسی:** د لوړو زده کړو د ساحې پراختيا، په لوړو زده کړو کې د ښځو د ونډې زياتوالی، د کرېډيټ سيستم د اجرا د سطحې لوړوالی، د محصلينو د خدمتونو زياتوالی او بهتروالی.

**ودانيز کارونه:** د تدريسي ودانيو رغول، د جمنازيم، کتابخانو، ليليو او اډيټوريم رغول، د مطالعې او څېړنو مرکزونه رغول او د معلوماتي تکنالوژۍ د پراختيا مرکز رغول.

### د داخلي عواملو د تحليل ماټريکس: Internal Factor Evaluation Matrix (IFEM)

| | شماره | فکتور | وزني ضريب | امتيازي ضريب | موزون ضريب |
|---|---|---|---|---|---|
| Straightness | 1 | د باتجربه استادانو شتون | 0.216 | 4 | 0.864 |
| | 2 | د ښو تدريسي امکاناتو شتون | 0.175 | 3.6 | 0.63 |
| | 3 | کم فيس | 0.162 | 3.5 | 0.567 |
| | 4 | د مجهز کتابتون شتون | 0.109 | 3 | 0.324 |
| Weakness | 5 | د محصلانو کمزورى جذب | 0.121 | 2 | 0.242 |
| | 6 | د لوړ رتبه استادانو کمښت | 0.096 | 1.8 | 0.1692 |
| | 7 | د کادري سيستم نه شتون | 0.067 | 1.5 | 0.1005 |
| | 8 | د علمي څېړنو کموال | 0.054 | 1.3 | 0.0702 |
| نتيجه | | | 1 | 20.7 | 2.9669 |

### دخارجي عواملو د تحليل ماټريکس: External Factor Evaluation Matrix (EFEM)

| | شماره | فکتور | وزني ضريب | امتيازي ضريب | موزون ضريب |
|---|---|---|---|---|---|
| Opportun | 1 | د عالي دارالمعلمين شتون | 0.191489 | 4 | 0.765956 |
| | 2 | ټيټ يا کم فيس | 0.148936 | 3.5 | 0.521276 |
| | 3 | معياري تدريسي امکانات | 0.106382 | 3.4 | 0.3616988 |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | 4 | مسلکي استادان | 0.127659 | 3.2 | 0.4085088 |
| Threats | 5 | د محصلانو کم جذب | 0.127659 | 2 | 0.255318 |
| | 6 | ناسم امنيتي شرايط | 0.106382 | 1.8 | 0.1914876 |
| | 7 | په ملي سطحه اقتصادي بحران | 0.106382 | 1.7 | 0.1808494 |
| | 8 | د کادري استادانو نه شتون | 0.085106 | 1.2 | 0.1021272 |
| نتيجه | | | 1 | 20.8 | 2.7872218 |

## د داخلي عواملو د لومړيتوبونو ماتريکس

| د اهميت ميزان | | مقايسه | د پوهنځۍ په رقابتي کړنو يې تاثير | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | زيات | متوسط | کم |
| | (3-4) | د باتجربه استادانو شتون | د ځوان نسل د روزلو يوه ستره وسيله ده | | |
| | | د ښو تدريسي امکاناتو شتون | | د تدريس د مؤثريت او کيفيت د ښه والي لپاره ضروري دي | |
| | | کم فيس | | | د محصلانو په جذب کي زيات مؤثريت لري |
| | | د مجهز کتابتون شتون | د محصلانو د پوهي د لوړولو باعث ګرځي | | |
| | (2-3) | کمزوری جذب | د پوهنځۍ د بقاء لپاره د محصلانو جذب اړين دی | | |
| | (1-2) | د لوړ رتبه استادانو نه شتون | | | د زده کړي بهير تکنۍ کوي |
| | | د کادري سيستم نه شتون | | د اعتماد ساحه کم رنګه کوي | |
| | | د علمي خپرنو کموالی | د تولني له حالت څخه ناخبره پاته کيدل | | |

## د خارجي عواملو د لومړيتوبونو ماتريکس

| د احتمال وقوع | | حالت | پر پوهنځی پې تاثير: زيات | متوسط | کم |
|---|---|---|---|---|---|
| | (3-4) | د عالي دارالمعلمين شتون | د اختصاصي جذب يوه ستره منبع ده | | |
| | | د ښو تدريسي امکاناتو شتون | | د تدريس د مؤثريت لپاره ضروري دي | |
| | | کم فيس | | | د محصلانو په جذب کي زيات مؤثريت لري |
| | (2-3) | د مسلکي استادانو شتون | د محصلانو د پوهي د لوړولو باعث ګرځي | | |
| | | کمزوری جذب | د پوهنځی د بقاء لپاره د محصلانو جذب اړين دی | | |
| | (1-2) | ناسم امنيتي شرايط | | | د پروخت رسېدګی مخنوی کوي |
| | | د کادري سيستم نه شتون | | د اعتماد ساحه کم رنګه کوي | |
| | | په ملي سطحه اقتصادي بحران | د محصلانو د جذب پر پروسي زياته اغيزه کوي | | |

## د داخلي او خارجي عواملو مقايسه

| داخلي عوامل / خارجي عوامل | د قوت ټکی یا S | د ضعف ټکی یا W |
|---|---|---|
| | 1. د باتجربه استادانو شتون<br>2. د ښو تدريسي امکاناتو شتون<br>3. کم فيس<br>4. د مجهز کتابتون شتون | 1. کمزوری جذب<br>2. د لوړ رتبه استادانو نه شتون<br>3. د کادري سيستم نه شتون<br>4. د علمي خپرنو کموالی |
| **فرصتونه یا O**<br>1. د عالي دارالمعلمين شتون<br>2. کم فيس<br>3. معياري تدريسي امکانات<br>4. مسلکي استادان | **تهاجمي ستراتيژياني SO**<br>1. په کم فيس او نړيوال معيار د باکيفيته لوړو زده کړو وراندي کول<br>2. د ښو تدريسي امکاناتو په لرلو د وخت او زمان د غوښتني سره سم د محصلانو د پوهي لوړول<br>3. د اکاډميکو لاسته راوړنو او د محصلانو د ظرفيت لوړولو په اساس د جذب زياتوالی | **محافظه کارانه ستراتيژياني WO**<br>1. د عالي دارالمعلين، فارغ لرونکو ليسو او له دولتي کانکو څخه د پاته محصلانو جذبول<br>2. په ډېر کم فيس يعني ۷۵٪ تخفيف سره د محصلانو جذبول<br>3. د ښو امکاناتو په درلودو د وخت او زمان مطابق لوړي زده کړي وراندي کول |

| تحدیدونه یا T | رقابتي ستراتیژیاني ST | تدافعي ستراتیژیاني WT |
|---|---|---|
| 1. د محصلینو کم جذب<br>2. ناسم امنیتي شراط<br>3. په ملي سطحه اقتصادي بحران<br>4. د کادري استادانو نه شتون | 1. په کم فیس د محصلینو جذبول<br>2. د اداري د ښه مدیریت په اساس د کیفیت لوړوالی<br>3. د یو ښې ستراتیژۍ پواسطه د محصلانو د جذب زیاتوالی | د موجوده کادرونو ساتنه<br>د اقتصادي ودې د خرابوالي له وجهې د اداري کارمندانو ساتنه<br>له داخلي او خارجي چلنجونو سره ځان عیارول |

## د ستراتیژیک حالت ټاکنه

| داخلي او خارجي عوامل / اوسط نهائي نمره | | قوي ټکي | کمزوري ټکي |
|---|---|---|---|
| | | 2,385 | 0,5819 |
| فرصتونه | 2,0574396 | 4,90<br>تهاجمي حالت | 1,197<br>محافظه کارانه حالت |
| تهدیدونه | 0,7297822 | 1,740<br>رقابتي حالت | 0,424<br>تدافعي حالت |

## د ستراتیژیو د لومړیتوب ټاکنه

| داخلی او باندنی عوامل / ستراتیژۍ | | تهاجمی ستراتیژۍ | | | محافظه کارانه ستراتیژۍ | | تدافعی ستراتیژۍ | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | د اهمیت ضریب | د جذابیت ضریب | نمره | د حذابیت ضریب | نمره | د جذابیت ضریب | نمره |
| د باتجربه استادانو شتون | قوی ټکی | 0.216 | 4 | 0.864 | 3.5 | 0.756 | 3.7 | 0.7992 |
| د ښو تدریسي امکاناتو شتون | | 0.175 | 3.6 | 0.63 | 3.5 | 0.6125 | 3.6 | 0.63 |
| کم فیس | | 0.162 | 3.5 | 0.567 | 3.4 | 0.5508 | 3.4 | 0.5508 |
| د مجهز کتابتون شتون | | 0.109 | 3 | 0.324 | 3 | 0.324 | 3 | 0.324 |
| کمزوری جذب | کمزوری ټکی | 0.121 | 2 | 0.242 | 2 | 0.242 | 2 | 0.242 |
| د لوړ رتبه استادانو نه شتون | | 0.096 | 1.8 | 0.1692 | 1.7 | 0.1632 | 1.7 | 0.1632 |
| د کادري سیستم نه شتون | | 0.067 | 1.5 | 0.1005 | 1.5 | 0.1005 | 1.5 | 0.1005 |
| د علمي څېړنو کموالی | | 0.054 | 1.3 | 0.0702 | 1.2 | 0.0648 | 1.2 | 0.0648 |
| د عالي دارالمعلمین شتون | فرصتو | 0.191489 | 4 | 0.765956 | 4 | 0.765956 | 4 | 0.765956 |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کم فيس | | 0.148936 | 3.5 | 0.521276 | 3.5 | 0.521276 | 3.5 | 0.521276 |
| معياري تدريسي امکانات | | 0.106382 | 3.4 | 0.3616988 | 3.4 | 0.3616988 | 3.4 | 0.3616988 |
| مسلکي استادان | | 0.127659 | 3.2 | 0.4085088 | 3.1 | 0.3957429 | 3.2 | 0.4085088 |
| د محصلانو کم جذب | تهديدونه | 0.127659 | 2 | 0.255318 | 2 | 0.255318 | 2 | 0.255318 |
| ناسم امنيتي شرايط | | 0.106382 | 1.8 | 0.1914876 | 1.7 | 0.1808494 | 1.8 | 0.1914876 |
| په ملي سطحه اقتصادي بحران | | 0.106382 | 1.7 | 0.1808494 | 1.6 | 0.1702112 | 1.7 | 0.1808494 |
| د کادري سيستم نه شتون | | 0.085111 | 1.2 | 0.1021272 | 1.2 | 0.1021272 | 1.2 | 0.1021272 |
| مجموعه | | 2.00 | | 5.7541218 | | 5.5669795 | | 5.6617218 |

**د ښوونې او روزنې پوهنځی پنځه کلنې ستراتيژياني**

**زيربنايي پراختيا:**

د ښوونې او روزنې پوهنځی که څه هم د اوس لپاره کافي زيربنايي امکانات لري او د بُست پوهنتون په عمومي تعميرکې موقعيت لري، خو د راتلونکو پنځو کلونو پراختيايي برنامو پر اساس د زيربنا د پراخوالي تقاضا موجوده ده. په دې برخه کې به په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې پروګرامونه په لاره اچول کيږي.

**1. د اداري شعباتو پراختيا**

د ښوونې او روزنې پوهنځی د اوس لپاره يوه اداري شعبه لري، چې د چارو د سرته رسولو او پراختيايي پروګرامونو لپاره نسبتاً کافيت کوي. مګر د راتلونکو پنځو کلونو پورې به اداري شعبات له يوه څخه لسو ته زيات کړو. په لاندې جدول کې د اوس او د راتلونکو پنځو کلونو د اداري شعباتو پراختيا ښودل سوې ده.

| شمېره | د زيربنا موجوده وضعيت | | د پنځو کلونو پراختيايي پلان | |
|---|---|---|---|---|
| | د شعبې نوم | تعداد | د شعبې نوم | تعداد |
| 1 | د پوهنځی رياست | 1 | د پوهنځی رياست | 1 |
| 2 | د پوهنځی معاونيت | 0 | د پوهنځی معاونيت | 1 |
| 3 | عمومي تدريسي مديريت | 0 | عمومي تدريسي مديريت | 1 |
| 4 | د پښتو څانګې آمريت | 0 | د پښتو څانګې آمريت | 1 |
| 5 | د رياضي څانګې آمريت | 0 | د رياضي څانګې آمريت | 1 |
| 6 | د بيولوژي څانګې آمريت | 0 | د بيولوژي څانګې آمريت | 1 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 7 | د اسلامي فرهنګي څانګي آمریت | 0 | د اسلامي فرهنګي څانګي آمریت | 1 |
| 8 | د انګلیسي څانګي آمریت | 0 | د انګلیسي څانګي آمریت | 1 |
| 9 | د تاریخ څانګي آمریت | 0 | د تاریخ څانګي آمریت | 1 |
| 10 | د کمپیوټر دفترونه | 0 | د کمپیوټر دفترونه | 1 |
| مجموعه | | 1 | | 10 |

**د تدریسي ټولګیو پراختیا**

د ښووني او روزني پوهنځی د اوس لپاره یو مجهز ټولګی لري، خو د محصلینو د جذب د زیاتوالي او نوي څانګو په ایجاد سره دا ایجابوي تر څو دا ټولګی له یو څخه دولسو ته زیات کړل سي. لاندي جدول د ښووني او روزني پوهنځی د ټولګیو د پراختیا په هکله معلومات راکوي

| شمېره | موجوده ټولګي | | د پنځو کلونو پراختیایي پلان | |
|---|---|---|---|---|
| | اړونده څانګه | د ټولګیو تعداد | اړونده څانګه | د ټولګیو تعداد |
| 1 | پښتو څانګه | 1 | پښتو څانګه | 4 |
| 2 | رياضي څانګه | 0 | رياضي څانګه | 2 |
| 3 | بیولوژي څانګه | 0 | بیولوژي څانګه | 2 |
| 4 | انګلیسي څانګه | 0 | انګلیسي څانګه | 3 |
| 5 | د اسلامي فرهنګ څانګه | 0 | د اسلامي فرهنګه څانګه | 1 |
| | مجموعه | 1 | | 12 |

**حکومتولي:**

د ښووني او روزني پوهنځی د اداري جوړښت په رأس کي د پوهنځی سرپرست رئیس قرار لري. د دي تر څنګ یاد پوهنځی د ۷ تنو استادانو لرونکی دی،چي اړوند پوهنځی د پوهنځی د رئیس له خوا اداره او چاري يې په ډېره اغېزمن ډول پر مخ رواني دي. د پوهنځی رئیس په پام کي لري چي د لا اغېزمنتيا په پار نوري لازمي کړني هم ترسره کړي، او دا بهیر تل څاري. د ښووني او روزني پوهنځی د خپلو ټولو کړنو په برخه کي د لوړو زده کړو وزارت له تګلاري سره سم به د هیواد ټولو نافذه قوانینو،پالیسیو،مقرربو او لوایحو ته ژمن او رعایتوي.

**د رهبری پروګرامونه:**

1. د اړتیاوو په نښه کول او د رفعه کولو لپاره يې نه ستړي کیدونکي هلي ځلي کول
2. په پوهنځی کي د نظم او ډسپلین تامینول
3. ستونزو او مشکلاتوته په وخت او زمان رسیدګي کول او مخه يې نیول
4. د هر ډول قومي،ژبني،نژادي تعصباتو او بې عدالتی مخه نیول
5. مسؤلینوته دکوښښنو،نوښتونو،مسؤلیت منلو،صادقانه او شفاف خدمت کولو انګیزه ورکول

6. د قانوني معیارونو، احکامو، مقررو، لایحو، کړنلارو او د ملي او تحصلي نصاب د پوهنتون او پوهنځی د شوراګانو د پریکړو تطبیق او څار کول.

**د فساد پر ضد مبارزه:**

دا چې فساد یوه ناقصه او شومه پدیده ده او د ټولني او هیواد دپرمختګونو د مخنیوي لامل ګرځي نو د ښووني او روزني پوهنځی همیش په پام کي لري چې د خپلو اړوندو چارو په برخه کي د هر ډول فساد د مخنیوي په موخه لاندي کړني ترسره کړي.

1. د اداري فساد اړوند ټولنیز پوهاوی.
2. د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کي د مقرراتو، لوایحو او قوانینو تطبیق او څارنه.
3. په پوهنځی کي د فساد اړوند مواردو تشخیص او ورته د حل لاري پیدا کول.
4. د پوهنځی په سطحه د ټولو ټولګیو څارنه کول.
5. د مجازاتو او مکافاتو د اصل رایجول او پلي کول.
6. د پوهنځی په سطحه د فساد څخه د مخنیوي پالیسي تطبیق کول.
7. د ملي وحدت پر وړاندي د ستونزو او ننګونو له منځه وړل او دملي یووالي د پیاوړتیا په موخه د علمي پروګرامونو پلي کول.
8. خلاصه د هر ډول غیري قانوني کړني مخنیوی.

**اداري بیروکراسي:**

په نړیواله کچه په اداراتو کي بیوروکراسي د چارو دښه سمبالښت په برخه کي یو منل سوی اصل ګڼل کیږي.چې د اداري د یو لړ مهم اسنادو او شواهدو په توګه له ځان سره په دوامداره توګه وساتي.بیا په ځینو مواردو کي منفي بیوروکراسي چاري له ځنډ او خنډ سره مخ کوي.لکه: د وخت ضایع کول،د چارو نه ترسره کیدل،فساد او د مصارفو زیاتوالی. په همدې اساس پوهنتون تل هڅه کوي چې د چارو د چټکتیا،روښوالي او مؤثریت په موخه د منفي بیوروکراسی د له منځه وړلو لپاره لاندي کړني ترسره کړي.

- په سیستماتیک ډول د تکنالوژۍ پرمټ د پوهنځیو او ادارو نښلول.
- په اداري پروسوکي د غبري ضروري پراوونو له منځه وړل.
- د اداري کړنو د روڼتیا په موخه د عصري او کمپیوټري پروګرامونو په مټ کړني ترسره کول.
- په علمي چاروکي ګمارل سویو اشخاصو ته د مسؤلیت په پام کي نیولو سره د صلاحیت سپارل.

**د عملیاتي پلان تائیدول:**

د ستراتیژیکو اهدافو لاسته راوړلو په مقصد عملیاتي پلانونه او طرحي د وخت او زمان او امکاناتو په نظر کي نیولو سره د مدیریت یو اساسي اصل تشکیلوي. چې چاري په ټاکل سویو وختونو کي په اغیزمنه توګه د مثبتو پایلو په

لرلو سره ترسره سي. په همدې اساس پوهنځی د چارو د ښه سمون لپاره اړینه بولي چي د ستراتیژیکو موخو د تر سره کولو لپاره د عملیاتي پلان د ترتیب لپاره لاندي کړني ترسره کړي.

- د عملیاتي پلان په جوړولو کي د ښکیلو خواوو شریکول.
- د عملیاتي پلان د ترتیب او تائید لپاره ډاډ ترلاسه کول.
- د عملیاتي پلان د پلي کیدو او تطبیق څخه څارنه ترسره کول.
- د عملیاتي پلان د تطبیق په رڼا کي د اړوندو کړنو د راپور ترتیب او وړاندي کول.
- د عملیاتي پلان د نه اجراء سویو چارو لپاره تدابیري پلانونه ترتیبول.

**د څارني او ارزوني پیاوړي کول:**

څارنه او ارزونه د یو اداري لپاره د ترتیب سوي پلان د تطبیق او مدیریت کولو یو اصل دی،چي له مخي یې له یوې خوا د تیروتنو او اشتباهاتو مخنیوی کیږي او له بلي خوا کړني په ډاډ سره ترسره کیږي. تر څو وکتل سي چي چاري په معیاري ډول له پلان سره سم پر مخ رواني دي.په همدې اساس څارنه او ارزونه د شفافیت رامنځته کولو او ستونزو د له منځه وړلو لپاره مهمه کړنه شمیرل کیږي،چي په نتیجه کي یې چاري د پراختیا او پرمختګ سبب ګرځي.

پوهنتون او پوهنځی له پلان سره سم د خپلو چارو د ترسراوي څخه د ډاد ترلاسه کولو په موخه په دوامداره توګه د څارني او ارزوني په برخه کي لاندي کړني تر سره کوي.

- o د رهبری په کچه د چارو څخه لیدنه او د تیروتنو د مخنیوي او سمون په موخه لازمي پریکړي کول.
- o د اداري کړنو په هکله له پوره غور او دقت څخه کار اخیستل.
- o د علمي او اکاډمیکو چارو د ګړندیتوب لپاره له اوږدو پروسو ډډه کول.
- o د څارني او ارزوني لپاره د ځانګړي کمیټي لرل.

**د توامیتونو پراختیا:**

دا چي علمي توامیتونه د تجربو شریکولو،ظرفیتونو لوړولو او مرستو په جلب کي د پوهنځی او ځانګي سره ډېره مرسته کولای سي.د ښووني او روزني پوهنځی غواړي چي د بیلا بیلو ملي او نړیوالو پوهنتونونو او ادارو سره د توامیتونو ترسره کولو لپاره اړیکي وساتي او دا پوهنځی په راتلونکو کلونو کي د روانو توامیتونو د تر سره کولو او ساتلو او همدارنګه د نورو توامیتونو کولو لپاره لاندي کړني ترسره کوي.

- د بهرنیو اړیکو او مرستو د جلب پوهنځی شموله کمیته ایجادول.
- په یاده کمیته کي د نړیوالو تجربو لرونکو او ژمنو کادري غړیو ځای پر ځای کول.
- یادي کمیټي ته پالیسي او اړوند ټول اداري اسناد چمتو کول.
- د یادي کمیټي چارو ته پوره پاملرنه او پراختیا ورکول.

- د یادې کمیټې پر هڅو د امکان تر حده د نړیوالو او سیمه یزو پوهنتونونو او ادارو څخه د توامیت له مخې د مرستو جلبول.

**د مرستو جلبول:**

په اوسني عصر کې هیڅ یوه اداره نسي کولی په یوازې ځان خپلې ټولې چارې په ښه ډول تر سره او خپلو موخو ته ورسیږي.نو بناً ټولې اداري اړې دي چې د خپلو چارو د تر سره کولو په برخه کې داخلي او بهرني همکارۍ او مرستې ترلاسه کړي.د ښوونې او روزنې پوهنځی هم د خپلو چارو د ښه سمون او تر سره کولو او پرمختګ لپاره کورنیو او بهرنیو مرستو ته اړتیا لري،چې د ترلاسه کولو په موخه یې لاندې کړنې په راتلونکو پنځو کلونوکې تر سره کوي.

- ✓ د مرستو د جلب او د اړیکو د ټینګولو کمیټې ته پراختیا ورکول.
- ✓ د مربوطه ملي او بین المللي ادارو سره توامیتونو لاسلیکول او حد اکثر ګټه ترې پوره کول.
- ✓ کمیټو ته د اړونده چارو د تر سراوي لپاره د پلانونو او پالیسیو ترتیب او تهیه کول.
- ✓ د تر سره سویو توامیتونو او اړیکو څخه د پوهنځی په هر اړخیز پرمختګ کې مؤثره ګټه پورته کول.
- ✓ په ملي او نړیواله کچه له پوهنتونونو سره د علمي چارو په همږغي او د فرصتونو برابرول.
- ✓ د پوهنځی د فزیکي او معنوي جوړښت او پرمختګ په موخه د حقیقي او حکمي اشخاصو څخه معنوي او مادي مرستو جلبول.

**د جنډر مسایل:**

د ټولنیز ژوند د ښه پرمختګ او هم د ټولنې د هر اړخیزې ودې لپاره نارینه او ښځینه پرته له کوم تبعیض او امتیاز څخه په ګډه د اړوندو چارو په تر سره کولو کې فعاله ونډه اخلي.لازمه ده چې ښځې هم د اسلامي شریعت په چوکاټ کې د ضرورت پر اساس په عصري او مسلکي کړنو کې د امکان تر حده ونډه واخلي،څو د بشري قوې شته تشه ډکه او چارې په معیاري شکل تر سره سي.هره تعلیمي اداره د علمي بنسټ په توګه په پلان کې لري،چې د نارینه وو تر څنګ ښځو ته هم په علمي او اکاډمیکو برخو کې ونډه ورکړي.په دې برخه کې هره تعلیمي اداره لاندې کړنې تر سره کوي.

- ❖ په علمي او تحصلي پروګرامونو کې د نارینه محصلینو تر څنګ د ښځینه محصلینو شمیر زیاتوالي ته پوره پاملرنه.
- ❖ د بشري ځواک د ګمارنې په برخه کې ښځینه کادرونو د ضرورت پر اساس ګمارل کیږي.
- ❖ په اسلامي چوکاټ کې د نظرې زده کړو لپاره د ښځینه محصلینو لپاره بیلې ټولګی په نظر کې نیول.

**علمي او اکاډمیک پروګرامونه:**

د علمي بنسټونو اصلي دنده د علمي کړنو تر سره کول دي. په همدې اساس د ښوونې او روزنې پوهنځی په پام کې لري چې د یو با کیفیته،پرمختللي او معیاري پوهنځی په توګه بیلا بیل ادبي،ټولنیز او څیړنیز پروګرامونه پر مخ یو سي

چي له امله یې په هیواد او نړۍ کي د انساني ژوند په بقا،ښه والي او پرمختګ کي پوره ونډه واخیستې وي.په دې لړ کي پوهنځۍ د علمي او اکاډمیکو پروګرامونو د پیاوړتیا لپاره لاندې کړنې تر سره کوي.

**په علمي کادرکي د وړ او مسلکي استادانو د ونډې پراخوالی:**

دا چې د ښوونې او روزنې پوهنځۍ د لوړو زده کړو وزات د قانون او مقرراتو سره سم په بیلا بیلو علمي،مسلکي او تخصصي برخو کي ټولنې، هیواد او سیمې ته وړ کادرونه روزي،نو تل هڅه کوي چې د مسلکي او وړ کادرونو په جذبولو کي لاندې ټکي په پام کي ونیسي.

- د لوړو زده کړو وزارت قانون د تقرر د شرایطو په رڼا کي داسې اشخاص په کادري سیستم کي جذبول چې اکاډمیکو ارزښتونو ته ژمن وي.
- د مسلک او تخصص په پام کي نیولو سره د پیاوړو او مناسبو اشخاصو ګمارل.
- په تقرر کي وړ ماستر او دوکتور تشخیصول او لومړیتوب ورکول.
- په تقرر کي د شمولیت لپاره د شفافې پروسې رامنځته کول.
- د پوهنتون د لوړې سوېې او لایقو استادانو او غړو له تجربو او وړتیاوو څخه پوره ګټه اخیستل.
- د موجوده علمي کادرونو ظرفیت ته وده او پراختیا ورکول.

**د علمي کادري غړو ظرفیت لوړول:**

د اداري او علمي پروګرامونو د هر اړخیز پرمختګ یو مهم لامل د اړوندو ادارو بشري قوا او کار کوونکي ګڼل کیږي. کار کوونکي د مربوطه ادارو د رهبري چارې په ښه ډول تر سره کوي او هم ورته د اهدافو د ټاکلو او لاسته راوړلو لپاره بیلا بیلې مادي او معنوي سرچینې رامنځته کوي او مؤثره ګټه ور څخه پورته کوي. د همدې لپاره د ښوونې او روزنې پوهنځۍ د پرمختګ او پرمختیا لپاره په پام کي لري چې د علمي او اداري څواک د ظرفیت د کچې د لوړولو په منظور لاندې کړنې په راتلونکو پنځو کلونو کي تر سره کړي.

- o د علمي کادر غړو ته د ماسترۍ او دوکتورا په پروګرامونو کي د زده کړې زمینه برابرول.
- o د ښته مسلکي او منلو کادرونو څخه د پوهنتون، پوهنځۍ او څانګې په پر مختیایي او روزنیزو چارو کي ګټه پورته کول.
- o د پوهنځۍ پرسونل ته د نویو اړتیاوو د پیژندنې په اړه د داخلي روزنو او ټریننګونو فرصتونه برابرول.
- o د پوهنځۍ په سطحه د ښته منلو کادرونو،استادانو او اداري کارمندانو ساتنه.
- o په ښوونیزو مهارتونو، وړتیاوو او نوې تکنالوژۍ باندې د علمي کادرونو سمبالول.
- o د ستراتیژیک پلان او کړنلارو د پلي کیدو په اړه د اداري پرسونل خبرداری.
- o د ښه زده کړې او ښوونې د زیاتیدنې او وده ورکوونې په موخه د لرې واټنې زده کړو لپاره د اسانتیاوو برابرول.
- o د پوهو او وړ استادانو له پاره د علمي او څیړنیزو پروژو عملي کول او د اسانتیاوو برابرول.

**د نوو څانګو فعالول ایجادول:**

د ټولني تقاضا د لوړو زده کړو په ډګر کي د پرمختګ او د خدماتو د پرمختیا په منظور اړينه ده چي تر راتلونکو پنځو کلونو پوري د اړتیا او تقاضا مطابق ځيني نوي څانګي په فعالیت پیل وکړي. په دې برخه کي لاندي ایجادوني په پام کي نیول سوي.

| پوهنځی | جواز لرونکي څانګي | نوي ایجادېدونکي څانګي |
|---|---|---|
| ښوونه او روزنه | بیولوژي | انګلیسي |
| | ریاضي | تاریخ |
| | اسلامي فرهنګ | |

**د علمي مجلې فعالول:**

د علمي مجلې د فعالیت جواز تر لاسه کول او د علمي مجلې فعالول (۱۴۰۲ل ل)

**علمي څېړني، تآلیفات او ژباړي:**

په نړیواله کچه څېړني او د څېړنو په پار پلان جوړونه د پوهنځی،څانګو او علمي برنامو د ودي او پرمختګ په برخه کي خپل ځانګړی رول لوبول.

هره ټولنه او د ټولني وګړي د ستونزو د حل او د پرمختګونو د رامنځته کولو په غرض علمي څېړني تر سره کوي. د ښووني او روزني پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کي ژمن دی چي د علمي څېړنو د تر سره کولو او ودي لپاره لاندي کړني تر سره کړي.

- د پوهنځی او څانګو په کچه د څېړنو یو مؤثر او فعاله مرکز رامنځته کول.
- د څېړنیزو کړنو او پروژو د تر سره کولو له پاره د بودیجي او امکاناتو برابرول.
- د ملي او نړیوالو پوهنتونو سره د اړیکو ټینګول او د څېړنیزو پروګرامونو پر مخ بیولو له پاره د مرستو جلبول او له هغوی سره په ګډه یو څېړنیز سازمان رامنځته کول.
- د څېړنو په برخه کي د علمي کادرونو،اداري کارمندانو او محصلینو روزل.
- د پوهنځی او څېړنیز مرکز له لوري د ټولني د اړتیا وړ څېړني ترسره کول.
- د څېړنیزو پروژو د پایلو او لاسته راوړنو خپرول او د اړوند ادارو سره یې شریکول.
- د څېړنیزو پروګرامونو تر سره کولو لپاره کار کول تر څو استادان په ملي او نړیوالو ژورنالونو کي علمي مقالي خپرې کړي.

د راتلونکو پنځو کلونو په پلان کي لاندي فعالیتونه نیول سوي دي.

| د ښووني او روزني پوهنځی د راتلونکو پنځو کلونو پلان سوي علمي مقالې، ژباړي او تاليفات | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **کلونه** | 1401 | 1402 | 1403 | 1404 | 1405 | جمله |
| **د مقالو شمېر** | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 | 30 |
| **تاليفات** | 0 | 1 | 2 | 2 | 2 | 7 |
| **ژباړي** | 0 | 1 | 2 | 3 | 4 | 10 |
| **مجموعه** | 4 | 7 | 10 | 12 | 14 | 47 |

**د نصاب پراختيا:**

دا چي اوسنۍ نړۍ او ټولنه په دوامداره توګه د بدلون او پرمختګ په حال کي ده.نو ټول علمي مراکز اړ دي چي خپلو علمي پروګرامونو ( کريکولمونه)د وخت،زمان،د ټولني او نورو ښکيلو خواوو له غوښتنو او اړتياوو په پام کي نيولو سره د کريکولم د بيا کتني په ترڅ کي د نصاب موضوعاتو کي وخت په وخت نوي او مثبت بدلونونه رامنځته کړي. پوهنځی د خپلو اړوندو علمي پروګرامونو د مثبت بدلونونو او د شرکاءو غوښتنو ته د ځواب ويلو په موخه په راتلونکو پنځو کلونو کي لاندي کړني تر سره کوي.

- ❖ د پوهنځی او څانګو په کچه د کريکولم د کميټو پياوړي کول.
- ❖ د کريکولم کميټي د غړو لپاره د اصلاحاتو په موخه نوي کړنلاري او پاليسياني تهيه کول.
- ❖ د پوهنځی او څانګو په کچه د علمي کادر غړو لپاره د کريکولم د نوي والي او سمون په موخه د لازمو تريننګونو چمتو کول.
- ❖ د کريکولم په بيا کتنه او پرمختيا کي د متخصصو اشخاصو،فارغانو او کارګومارني د مراجعو سره مشورې کول.
- ❖ له اړتيا سره سم له ملي او سيمه ييزو پوهنتونونو سره د کريکولم په بيا کتنه او سمونه کي ملتيا کول او د نظرونو کريک کول.
- ❖ د ملي سيمه ييزو او نړيوالو پوهنتونونو څخه د نويوچاپ سويو څېړونو او کتابونو تر لاسه کول
- ❖ له کريکولم څخه د مطلوبو موخو د لاسته راوړلو په غرض ارزوني تر سره کول.
- ❖ له ټاکل سوي کريکولم سره سم د درسي موادو تهيه کول او برابرول.
- ❖ د کريکولم د پلي کيدو څخه د ډاډ په موخه د اړوندو علمي کادرونو څخه د راپورونو راټولول.
- ❖ د لوړو زده کړو وزارت د نوي ستراتيژيک پلان يو هدف د لوړو زده کړو په برخه کي د تدريس عنعنوي ميتود(OBE د موخو په اساس زده کړه) او (SCL شاګرد محوره)ميتودونو بدلول.

**د کیفیت تضمین او اعتبار ورکول:**

علمي برنامې او پروګرامونه د خپلو ملي او نړیوالو تحصیلي معیارونو په رڼا کې د خپلو خدماتو د ښه باور ترلاسه کولو په موخه تل هڅه کوي چې په خپلو علمي او څیړنیزو پروګرامونو کې بهتروالی راولي. نوموړي چارې د ملي او یا هم نړیوالو اعتبار ورکونکو ادارو له خوا د بیا کتنې او ارزونې پروسو په بهیر کې ارزول کیږي چې په پایله کې یې اړوند پوهنتونونو خدمات د اعتبار بیلا بیلې درجې ترلاسه کوي. او د علمي او څیړنیزو چارو د نوي والي او غوره والي سبب ګرځي. چې په دې برخه کې د ښوونې او روزنې پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کې د ښه باور او اعتبار تر لاسه کولو لپاره د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکولو په برخه کې لاندې کړنې تر سره کوي.

a. د ملي او بین المللي تضمینونکو ادارو څخه د کیفیت تضمین او اعتبار لاسته راوړل.
b. په ملي او بین المللي کچه د پوهنځی د خدماتو کیفیت او درجې لوړول.
c. د کیفیت د تضمین د لوړولو په موخه د مسلکي کاري ټیم رامنځته کول.
d. په ټولنه کې د پوهنځی د اعتبار زیاتولو لپاره د ټولنیزو،ژبني او ادبي ستونزو په حل کې فعاله ونډه اخیستل.
e. په پوهنځی کې د ښو زده کړو ټولې اسانتیاوې برابرول.
f. د کیفیت د ښه والي په موخه د نورو علمي برنامو سره همږغي کول.
g. په زده کړه کې د تدریس له نویو میتودونو څخه ګټه پورته کولو لپاره اسانتیاوې برابرول.
h. د پوهنتون د ستراتیژیکو موخو د پلي کیدا په منظور له نورو پوهنځیو سره همږغي کول.
i. د روزنیزو پرو ګرامونو پیاوړتیا،عاموال او تطبیق کول.
j. اداري او علمي کادري غړو او محصلانو ته د کیفیت د ښه والي د معیارونو په هکله عامه پوهاوی ورکول.
k. په دوامداره توګه د برنامو او پروګرامونو ارزونې تر سره کول.

**د کتابتون معیاري کول:**

د ښوونې او روزنې پوهنځی لا له وړاندې د نورو پوهنځیو سره په مشترکه یو کتابتون لري. چې د ژبو او ادبیاتو اړوند په سلګونو مسلکي،تدریسي، کومکي تدریسي، تحقیقاتي او د ازادي مطالعې کتابونه پکښې موجود دي. خو دا چې په نوموړی کتابتون کې موجوده کتابونه د وخت، استادانو او محصلینو غوښتنې نه سي پوره کولای. او نسي کولای چې د ټولو اړتیا ورته پوره کړي. نو په همدې اساس د کتابتون د غني کولو په برخه کې لاندې فعالیتونه په پلان کې نیول سوي دي.

- د کتابتون له پراخوالي څخه هدف د کتابتون لپاره د بیلا بیلو مسلکي،تدریسي،تحقیقاتي او د مطالعې د کتابونو زیاتوالی دی.
- د مطالعې،تحقیق او څیړنیزو پروژو لپاره د سهولتونو رامنځته کول او د مطالعې په وړاندې د پرتو ننګونو له منځه وړل.
- د کتابتون د ځای او صحنو پراخوالی.

- د ښځینوو او نارینه وو د مطالعې د ځای جلاوالی.
- د اړتیا او غوښتنو مطابق د محتلیفو کتابونو زیاتوالی.

| اړین شمېر کتابونه د کلونو په تفکیک | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د کتابونو نوعیت | | مسلکي | تدریسي | کومکي تدریسي | تحقیقاتي | د ازادي مطالعې | مجموعه |
| کلونه | | 1401 | 1402 | 1403 | 1404 | 1405 | 1401-1405 |
| د کتابونو د شمېر زیاتوالی | برېښنايي کتابونه | 200جلد | 200 جلد | 200 جلد | 200 جلد | 200 جلد | 1000 جلد |
| | هارډ کتابونه | 40 جلد | 40جلد | 40جلد | 40جلد | 40جلد | 200 جلد |

| اړین شمېر امکانات | | |
|---|---|---|
| شمېره | اړینه شعبه | اړین امکانات |
| 1 | د پوهنځی کتابتون | اړین فرنېچر او وسایل |
| | | اړین شمېر کتابونه |
| 2 | د تخنیکي او برېښنايي زده کړو شعبه | اړین تکنالوژیکي وسایل |
| | | ډیجیټلي کتابتون |

**د اداري تشکیلاتو بشپړول:**

د ښوونې او روزنې پوهنځی خپل اوسنې وضعیت ته په کتو سره د اړتیا مطابق په پښتو څانګه کې ۴ تنه اداري او قراردادي پرسونل لري، چې تر ډېره پوري په یاده پوهنځی کې بستونه خالي دي، نو د دې لپاره چې د پوهنځی تشکیلات په درست ډول سره بشپړ سي او خپلو تاکلو موخو ته په درست ډول رسېدګۍ وکړو، نو د راتلونکو کلونو لپاره د اداري تشکیل اړوند په پلان کې لاندې فعالیتونه نیول سوي دي.

| شمېره | موجوده تشکیلات | | | د پنځو کلونو پراختیايي تشکیلاتي پلان | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | اړونده شعبه | دایمي | قراردادي | اړونده شعبه | دایمي | قراردادي |
| 1 | د پوهنځی ریاست | 1 | 0 | د پوهنځی ریاست | 1 | 0 |
| 2 | د پښتو څانګې آمریت | 0 | 4 | د پوهنځی معاونیت | 1 | 0 |
| 3 | خدماتي کارمندان | 0 | 1 | عمومي تدریسي مدیریت | 1 | 0 |
| 4 | | | | د پښتو څانګې آمریت | 5 | 3 |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 5 | | | | د رياضي ځانګي آمريت | 4 | 1 |
| 6 | | | | د بيولوژي ځانګي آمريت | 4 | 2 |
| 7 | | | | د اسلامي فرهنګي ځانګي آمريت | 4 | 1 |
| 8 | | | | د انګليسي ځانګي آمريت | 4 | 3 |
| 9 | | | | د تاريخ ځانګي آمريت | 4 | 1 |
| 10 | | | | تخنيکي او د کتابتون کارمندان | 2 | 0 |
| مجموعه | | 1 | 5 | | 30 | 11 |

**د هيواد په کچه د بيلابيلو پوهنتونو د ښووني او روزني پوهنځيو / ادارو سره د تفاهم ليکونو لاسليکول:**

1. د هلمند د لوړو زده کړو مؤسيسې او د ښووني او روزني پوهنځی سره د ګډو همکاريو د تړون لاسليک کول.
2. د هلمند د پوهني د رياست سره د ګډو همکاريو د تړون لاسليک کول.
3. د استادانو د روزني د آمريت سره د ګډو همکاريو د تړون لاسليک کول.
4. د اطلاعاتو او کلتور د رياست سره د ګډو همکاريو د تړون لاسليک کول.

| شمېره | د اړتيا مطابق د همکار شازمان يا اداري موقعيت | د هوکړليکونو تعداد | د فعاليت/همکاريو ساحه |
|---|---|---|---|
| 1 | هلمند ولايت | 4 | د محصلينو د ظرفيت لوړوني، مسلکي مرستي مشورې او عملي کارونو لپاره. |
| 2 | کابل او نور ولايتونه | 2 | د استادانو، اداري کارمندانو او محصلينو د ظرفيت لوړوني، علمي څېړنو او نورو لوړو زده کړو په موخه. |
| مجموعه | | 6 | |

**د ولايت په کچه د پوهني له نظام سره همکاري:**

لکه څرنګه چې څرګنده ده د افغانستان د پوهني نظام لاهم په ځينو برخو کې همکارۍ او لاسنيوي ته اشده اړتيا لري.له يوې خوا د پوهني په نظام کې فساد او بې کفايتي او له بلې خوا د مسلکي ظرفيتونو او کدرونو نه شتون د نا امنيو په ملاتړ دا نظام له ډېرو خنډونو سره مخ دی.نو بناً په معنوي او پوهنيزه برخه کې ډېر زيات لاسنيوي ته اړتيا لري.

له دې برخې څخه هدف له لیسو او د معارف له سیستم سره په زده کړه ایزه برخه کې همکاري او مرسته کول دي.ترڅو له یوې خوا د معارف د ښیر ملاتړ وسي او زده کوونکي له سهولتونو څخه برخمن سي او له بلې خوا د معارف د زده کوونکو پر زده کړه او ظرفیت مثبت اغیز و شیندي تر څو په راتلونکې کې پوهنتونونو ته لایق او د ښه مهارت لرونکي محصلین لاره پیدا کړي.

په دې برخه کې لاندې کارونو ته اړتیاده:

- د ښوونې او روزنې د نظام د ښبود لپاره د استعدادونو کشفول.
- کشف سویو استعدادونو ته وده ور کول.
- لیسو او ښوونیزو مرکزونو ته مسلکي کادرونو وړاندې کول.
- په ښوونیزه، روزنیزه او تدریسي برخه کې د سیمې او هیواد په کچه وړ لایق دندې او مسلک ته ژمن کادرونه وړاندې کول.

**د بریښنایي زده کړو پروګرامونه:**

دا چې د نني عصر د ضرورتونو او غوښتنو سره سم په نړیواله کچه علمي پروګرامونه د حضوري زده کړو تر څنګ د غیري حضوري زده کړو پروګرامونه هم پر مخ وړي.او د شته امکاناتو پر مټ د خپلو خدماتو پوښښ ته پراختیا ورکوي،دې موخې ته د رسیدو په مقصد علمي پروګرامونه په خپلو خدماتو کې د تکنالوژۍ ونډه زیاته او مؤثره ګټه ترې پورته کوي.

د علمي او څېړنیزو بهیرونو د پیاوړتیا او مؤثریت لپاره علمي پروګرامونه خپلو اړوند ښکیلو خواوو ته د بریښنایي اسانتیاوو په چمتو کولو سره هر اړخیز نوی والی او مثبت بدلون رامنځته کوي.

د حضوري علمي پروګرامونو سره په څنګ کې علمي پروګراونه اړ دي چې د انلاین کورسونو او ګډو زده کړو لپاره د انلاین سرچینو اسانتیاوې رامنځته او د عصري تکنالوژۍ د استعمال او استعفادې څخه مثبته ګټه پورته کړي.

د یادو چارو د ښه مدیریت په موخه پوهنځی په راتلونکو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کوي.

- د بریښنایي زده کړو کمیټې ته پراختیا ورکول.
- د بریښنایي زده کړو په اړه علمي کادري غړیو ته د ورکشاپونو برابرول.
- د بریښنایي زده کړو د پروګرامونو د پلي کیدا څخه بشپړه څارنه.
- د بریښنایي زده کړو د ښه تر سراوي لپاره د یوې ځانګړې پالیسی رامنځته کول.
- د ښوونې او روزنې پوهنځی محصلینوته د بریښنایي زده کړو په هکله معلومات ورکول.

**له تکنالوژی څخه استفاده:**

نن ورځ تکنالوژي چې د نړۍ د وصلیدو،د اړیکو او ارتباط نیولو یو ستره او اساسي برخه بلل کیږي. او په ورځني ژوند کې د دانسانانو یو ضرورت هم بلل سوی دی،نوبناً په نړۍ کې تکنالوژي د معلوماتو په ترلاسه کولو،خوندیتوب،د اړیکونیولو،ښه مدیریت او دروزنیزو پروګرامونو په برخه کې رغنده دنده تر سره کوي.اړینه ده چې علمي پروګراونه هم په کافي اندازه خپلې چارې د معلوماتي تکنالوژی پر مټ پیاوړي کړي.

د ښوونې او روزنې پوهنځی هم د تکنالوژی څخه د خپلو چارو د انسجام او چټکتیا په موخه لاندې کړنې تر سره کوي.

- د تدریسي، علمي او څیړنیزو چارو په تر سره کولو کې د تکنالوژی څخه اعظمي استفاده کول.
- د اداري، تخنیکي او مدیریتي چارو سمون او پراختیا د تکنالوژی پر مټ.
- د تکنالوژی پرمټ د داخلي او خارجي اړیکو نیولو زمینه برابرول.
- د محصلینو هڅول تر څو له تکنالوژی څخه مؤثره استفاده وکړي.
- د کاري امنیت لپاره له تکنالوژی څخه استفاده کول.
- په ځینو شرایطو کې د تکنالوژی پرمټ انلاین درسونه مخته وړل.

| شمېره | د اړتیاوړ سهولتونه | د اړتیا کچه/ لومړیتوب |
|---|---|---|
| 1 | د استادانو او اداري کارمندانو لپاره د 2MB انټرنیټ سهولت. | تر هرڅه مخکې ورته اړتیا ده. |
| 2 | د تدریسي او اداري کمپیوټرونو اماده کول. | تر انټرنیټ وروسته ډېر مهم دي. |
| 3 | د نویو ټولګیو او شعباتو لپاره د اړینو، پروجکټرونو/LCD او نورو وسایلو تهیه کول. | د نویو ټولګیو او محصلینو د جذب سره یو ځای ورته اړتیا لیدل کیږي. |
| 4 | د پوهنځی لپاره د ډیتابیس فعالول. | د اسنادو د خوندیتوب او کارونو د چټکتیا لپاره |
| 5 | د اداري شعباتو او ټولګیو لپاره د پرنټر اماده کول. | د اداري او تدریسي پرینټري موادو شتون د کارونو د اسانتیا لپاره اړین دي. |
| 6 | د محلي شبکې LAN ایجاد او فعالول. | د چارو د مؤثریت او سرعت لپاره ډېر مهم دی. |

**د عوایدو راټولول:**

د عوایدو د راټولولو لپاره د بُست پوهنتون اداره د ټولو پوهنځیو لپاره یو مالي مدیریت لري چې د ټولو پوهنځیو د محصلینو فیس هم هلته تسلیمیږي. د عوایدو د راټولولو لپاره پوهنځی لاندې کړنې تر سره کوي.

- د ثابتو شتمنیو زیاتوالی.

- د تحصیلي خدماتو له لارې د عوایدو راټولول( تحصیلي فیس او دکانکور فیس)
- د څېړنو پر مټ د عوایدو راټولول.

**نړیوال فعالیتونه:**

د ښوونې او روزنې پوهنځی پلان لري په راتلونکو پنځو کلنو کې نړیوال فعالیتونه تر سره کړې چې د دې فعالیتونو له جملې څخه د لاندې ټکو په نظر کې نیولو سره خپل فعالیتونه تر سره کوي.

- د نړیواالو پوهنتونو سره د ظرفیت لوړونې په موخه تفاهم لیکونه لاسلیکول.
- نړیوالو پوهنتونونو ته د محصلینو لیږل تر څو په علمي څېړنو کې ورسره کار وکړي.
- نړیوالو پوهنتونونو ته علمي سفرونه.
- په نړیوالو ژورنالونو کې ریسرچونه کول.
- په نړیواله سطه پښتو ژبه معیاري، علمي، څېړنیزه او سیال کول.
- د تدریسي میتودونو او لکچرونو لپاره د پرمختللو برېښنایي وسایلو په مټ د هیواد او نړۍ د باتجربه استادانو تدریسي ویډیوګانې او لکچرونه محصلانو ته ور ښودل.

**لوړو زده کړو ته لاس رسی:**

د لوړو زده کړو تر لاسه کول د بشري حقوقو څخه یو اساسي حق دی.د ښوونې او روزنې پوهنځی لوړو زده کړو ته د لاس رسي په موخه د وخته وروسته خپلې تدریسي چارې پرمخ بیايي. لوړو زده کړو ته په شفافه توګه د لاس رسي په موخه پوهنځی په راتلونکو کلونوکې لاندې کړنې تر سره کوي.

- ❖ له هر ډول توپیر پرته هیوادوالوته په مساویانه ډول د زده کړو حق ورکول او اسانتیاوې ورته برابرول.
- ❖ د وخت او ټولنې له غوښتنو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره د نویو علمي پروګرامونو ترتیبول.
- ❖ د منظمو او پرمعیار ولاړو زده کړو لپاره تل هڅه او کوښښ کول.
- ❖ په پوهنځی کې د ټولو علمي پروګرامونو څخه مؤثره ګټه اخیستل.
- ❖ خپلو علمي پروګرامونو د جذب ظرفیت ته پراختیا ور کول.
- ❖ عامه وګړو ته د علمي پروګرامونو په اړه پوره او نوې معلومات ورکول.
- ❖ د وخت له غوښتنو سره سم د نویو علمي پروګرامونو رامنځته کول.
- ❖ د لوړو زده کړو د اهمیت په اړه عامه وګړو ته د عامه پوهاوي په پار هر اړ خیز معلومات وړاندې کول.

د ښوونې او روزنې پوهنځی د موجوده محصلینو تعداد او د راتلونکو پنځو کلونو د جذب پلان په لاندې جدول کې

| شمېره | د موجوده محصلینو تعداد | | | د پنځو کلونو د محصلینو د جذب پلان | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | اړونده څانګه | نارینه نارینه محصلین | ښځینه محصلین | اړونده څانګه | لومړی کال | دویم کال | دریم کال | څلورم کال | پنځم کال | ټول |
| 1 | پښتو | 17 | 0 | پښتو | 20 | 30 | 40 | 40 | 50 | 180 |
| 2 | | | | رياضي | - | 20 | 30 | 40 | 40 | 140 |
| 3 | | | | بيولوژي | - | 20 | 30 | 40 | 40 | 140 |
| 4 | | | | اسلامي فرهنګ | - | - | - | 30 | 30 | 60 |
| 5 | | | | انګليسي | - | - | - | 30 | 50 | 80 |
| 6 | | | | تاريخ | - | - | - | - | 20 | 20 |
| **مجموعه** | 1 | 17 | 0 | 6 | 20 | 70 | 100 | 180 | 230 | 620 |

**په اسلامي چوکاټ کې و لوړو زده کړو ته د ښځينه محصلينولاس رسی:**

څرنګه چې د ژوند په ټولو چارو کې ښځې د ټولنې په بشري ځواک کې له نيمايي څخه زياته برخه تشکيلوي او د ټولنې په هر اړخيز پرمختک کې د نارينوو تر څنګ د ژوندانه په جريان کې ښه ونډه لري د لوړو زده کړو په پروګرامونو کې هم د ښځينه وو ونډه د اسلام او شريعت په نظر کې نيولو سره په پام کې نيولو سوې ده.

- ښځينه محصلينو ته د څانګې په علمي پروګرامونو کې په جلا ټوکه کېدون لپاره زمينه برابرول.
- د امکان تر حده ښځينه محصلينو ته د لوړو زده کړو ته د تشويق په موخه د معياري ټولګيو او ازاده تدريسي جلا فضا چمتو کول.
- د ښځينه استادانو په علمي کادري بستونو کې شاملول.

**د کريډيټ سيستم پياوړتيا او پلي کول:**

د ننی نړۍ زيات شمير پوهنتونونه د کريډيټ سيستم د اصولو په رڼا کې خپل روزنيز پروګرامونه پر مخ بيايي او له دې لارې د محصلينو د ښو پايلو لرونکو زده کړو او اسانتياوو زمينه برابروي چې له يوې خوا محصلين و کولای سي له خپل توان سره سم د زده کړو بهير پرمخ يوسي او له بل پلوه د هرډول نظري زده کړو له اسانتياوو څخه برخمن سي.پوهنځۍ د کريډيټ سيستم زده کړو د پياوړتيا او معياري کيدو په پارلاندي کړني په پام کې لري.

- د علمي کادري ټولو غړو ته د کريډيټ سيستم د عملي کيدو په اړه روزنيز ورکشاپونه پيلول.

- د کريډيټ سيستم د مؤثريت په اړه محصلينوته معلومات ورکول.
- په ټولو څانګو کې د کريډيټ سيستم د پلي کيدو څارل.
- د د کريډيټ سيستم په ښه بڼه د پلي کيدو په هکله تدريسي او اجرايوي مدير ته پوهاوی ورکول.
- د پايلو پر بنسټ د زده کړو په نتيجه کې د کريډيټ لايحې موخې تر لاسه کول.
- د شاګرد محوری د زده کړو رايجول.
- د کريډيټ سيستم د لايحې په اساس د عملي زده کړو پياوړي کول.

**د زده کړيالانو د مهارتونو د ودې پروګرامونه:**

ټول علمي بنسټونه تل هڅه کوي چې په خپلو علمي او خدماتي چارو کې محصلينوته د پام وړ سهولتونه برابروي او د غوره پالو په لړلو سره محصلين وروزي او هميش غواړي چې پوهنتونونه په ملي او نړيواله کچه د محصلينو توجه او رضايت خپل کړي. د خدماتو او سهولتونو په وړاندي کولو سره پو هنتونونه غواړي چې له يو پلوه په علمي ټولني کي خپل حيثيت لوړ کړي او له بله پلوه له همدې لاري مالي او مادي امکانات پراخه کړي.پوهنتون د غوره خدماتو او اسانتياوو د پياوړي کولو په موخه لاندي کړني تر سره کوي.

- محصلينوته د زده کړو د برابرولو تر څنګ د لازمو مهارتونو چمتوکول.
- محصلينوته د علمي سفرونو زمينه برابرول.
- د محصلينو وړانديزونو او شکايتونو ته لاس رسی.
- د علمي زده کړو په برخه کي د محصلينو لپاره اړوند سکتورونو سره د تواميتونو رامنځته کول
- د محصلينو د علمي پياوړتيا په موخه د بيلا بيلو تمثيلي پروګرامونو او سمينارونو چمتو کول .
- د ويبسايټ له لاري محصلينوته پوره معلومات په واک کي ورکول.
- د محصلينو د علمي ظرفيت لوړاوي په موخه کتابتوني سهولتونه ته پراختيا ورکول.
- په نړيوالو علمي سياليو کي محصلينوته د برخي اخيستني زمينه برابرول.
- محصلينوته د ښې زده کړې لپاره د مناسب چاپيريال رامنځته کول.

| شمیره | ګټه اخيستونکي | د پروګرامونو تعداد په کال کي | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | زده کړيز سيمينارونه | مسلکي ټرينينګونه | علمي سيرونه | علمي کنفرانسونه | د مهارتونو د ودي ورکشاپونه | د يو کال پروګرامونو مجموعه |
| 1 | محصلين | 2 | 2 | 2 | 3 | 2 | 11 |
| 3 | د اجراء وخت | پورته ذکر سوي فعاليتونه د دويم کال څخه وروسته تطبيق کيږي. | | | | | |

**د پوهنځي موخي او اهداف:**

د ښوونې او روزنې پوهنځی د ستراتیژیک پلان جوړوني څخه موخه د لوړو زده کړو د بهیر چټکتیا او ښه والی دی تر څو په ټولنه کې د شته ناورینونو او ستونزو ته د پای ته رسیدو په برخه کې خپله ونډه واخلي.پوهنځی د ټاکلو ارزښتونو،لیدلوري او معیارونو په پام کې نیولو سره داسې ړو،مسلکي او معیاري کادرونه روزي چې د ټولنې په پرمختګ او د ستونزو په حل کې د خدمت وړاندې کولو جوګه سي.د ښوونې او روزنې پوهنځی پورته لید لوري ته د رسیدو په موخه په راتلونکو پنځو کلونو لاندې اهداف تعقیبوي.

- ❖ د لوړو زده کړو په برخه کې د روڼ او شفاف بهیر رامنځته کول.
- ❖ د بیلا بیلو علمي او تخصصي پروګرامونو د پلي کیدو لپاره د معیاري،تخنیکي،او مسلکي جوړښتونه،مادي او کادري وسایلو برابرول.
- ❖ د لوړو زده کړو په برخه کې غوره خدمتونو وړاندې کولو لپاره هر اړخیز امکانات تر لاسه کول.
- ❖ د وخت او اړتیاوو له غوښتنو سره سم په بیلا بیلو برخو کې د مسلکي اشخاصو روزل.
- ➢ د علمي او څیړنیزو چارو په برخه کې په ملي او نړیوالو معیارونو برابر علمي پروګرامونه رامنځته کول.
- ❖ د لوړو زده کړو وزارت د قانون حاکمیت،عدالت تامین،اقتصادي ودې او امنیت تامینولو ته زمینه برابرول.
- ❖ د څیړنو پرمټ د ټولنې د ستونزو پېژندل او ورته مناسبې حل لارې پیداکول.
- ❖ د لوړو زده کړو وزارت،ولایت،پرمختیایي ښکیلو خواوو او نورو تمویلونکوادارو او اشخاصو په وړاندې د پوهنځي څخه اغیزمنه استازولي او له دوی سره د ښو اړیکو ټینګول.

**د کلیدي کړنو او شاخصونو په نظر کې نیولو سره د پوهنځي ستراتیژیک اهداف او موخې ټاکل:**

د ښوونې او روزنې پوهنځی د ستراتیژیک پلان جوړوني څخه موخه د لوړو زده کړو د بهیر چټکتیا او ښه والی دی تر څو په ټولنه کې د شته ناورینونو او ستونزو ته د پای ته رسیدو په برخه کې خپله ونډه واخلي.پوهنځی د ټاکلو ارزښتونو،لیدلوري او معیارونو په پام کې نیولو سره داسې ړو،مسلکي او معیاري کادرونه روزي چې د ټولنې په پرمختګ او د ستونزو په حل کې د خدمت وړاندې کولو جوګه سي. بُست پوهنتون پورته ارزښتونو او لید لوري ته د رسیدو په موخه لاندې کړنې ترسره کوي.

- ➢ په دوامداره توګه د وخت د شرایطو د اړتیاوو او غوښتنو په پام کې نیولو سره معیاري زده کړې وړاندې کول.
- ➢ د علمي کادري غړیو لپاره د نورو لوړو زده کړو زمینه برابرول.
- ➢ د ښو علمي او څیړنیزو پرمختګونو په موخه څیړنیز مرکز معیاري کول.
- ➢ په راتلونکو پنځو کلونوکې له ملي او نړیوالو اعتبار ورکوونکو ادارو څخه اعتبار ترلاسه کول.
- ➢ په علمي او اکاډمیکو چارو کې د خپلواکۍ په لرلو سره د سیمې له علمي پروګرامونو سره سالمې سیالۍ ته چمتو والی.

**خطرات:**

داچې نن سبا د نورو ادارو په څیر علمي پروګرامونه په ټولنه کې د ځینو ګواښونو سره مخامخ کیږي.نوکه چیرې په پلان کې ورته پوره پاملرنه ونه سي،شوني ده چې د بیلابیلو تهدیدونو او ګواښونو له کبله د پلان مؤثر تطبیق له خطر سره مخامخ سي.

پوهنځۍ په راتلوونکوپنځو کلونو کې خپل یتراتیژیک پلان د تطبیق پر وړاندې د لاندې خطراتو وړاندوینه کوي.

- د هیواد په کچه د کاري فرصتونو نه شتون.
- د عوایدو کموالی.
- په علمي ډګر کې نا سالم رقابتونه.
- د حکومت د دستګاه له لوري خصوصي سکتور سره د سالمې همکارۍ نشتون.
- د علمي کادرونو نه شتون.
- د تکنالوژۍ نا سم استعمال.
- د تکنالوژۍ سره نه بلدتیا.

**په افغاني ټولنه کې د ښوونې او روزنې پوهنځۍ رول:**

د ښوونه او روزنه د یوه هیواد د تعلیمي سیستم د ملا د تیر حیثیت لري. د ښوونې او روزنې پوهنځۍ د طبیعي او اجتماعي علومو د مور په توګه د هیواد په کچه ځانګړی ځای لري، د ټولنې په پراختیا او د هیواد د بچیانو د روزنې په برخه کې رغنده رول لري، چې د کار ساحه یې تدریس، څېړنې او نظري ښوونې او روزنې ګټورو مفکورو ته پراختیا ورکول دي.

**د پوهنځۍ دندې:**

1. د طبیعي او اجتماعي علومو تدریس.
2. د لوړو او نیمه لوړو زده کړو مؤسسو، ښوونځیو او څېړنیزو مرکزونو لپاره د ښوونې او روزنې په برخه کې د کادرونو روزل.
3. د طبیعي او اعتماعي علومو په برخه کې د کادرونو روزل.
4. د پرمختللو سیستمونو په برخه کې د مؤسساتو او بیلابیلو اداراتو لپاره د مسلکي او په کار پوه کادرونو روزل.

## د ستراتیژیکو لومړیتوبونو ټاکنه

| شماره | ستراتیژیک لومړیتوب | ستراتیژیک پروګرام | برنامه |
|---|---|---|---|
| 1 | د علمي ظرفیتونو پراختیا | د پوهنځی اعتبار اخیستنه | د کیفیت تضمین کمېټې پراختیایي/تطبیقي پلان |
| 2 | | د علمي څېړنو پراختیا | د علمي څېړنو انکشافي پلان |
| 3 | | د علمي ظرفیت لوړوني پروګرامونه | د څانګو انکشافي پلان |
| 4 | | د برېښنایي زده کړو پراختیا | د الکترونیکي زده کړو پراختیایي پلان |
| 5 | | د نوو څانګو ایجاد | د پوهنځي پراختیایي پلان |
| 6 | مالي او اداري پراختیا | د عوایدو پراختیایي پروګرامونه | د مالي چارو پراختیایي پلان |
| 7 | | د تشکیلاتو پراختیا | د پوهنځی کلنی تطبیقي پلان |
| 8 | | د هوکړه لیکونو او تواميتونو لاسلیکول | د پوهنځی پراختیایي پلان |
| 9 | | د ډونرانو جلب | د الکترونیکي زده کړو/پوهنځی انکشافي پلان |
| 10 | | اداري، تخنیکي او ټکنالوژي کي پراختیا | د الکترونیکي زده کړو کمېټې پراختیایي پلان |
| 11 | ښه حکومتولي | د کمپیوټرونو پراختیا او معیاري کول | د پوهنځی کلنی تطبیقي پلان |
| 12 | | د اداري کارمندانو د ظرفیتونو لوړوالی | د پوهنځی پراختیایي پلان |
| 13 | لوړو زده کړو ته لاس رسی | د جذب زیاتوالی | د څانګو پراختیایي پلان |
| 14 | | د محصلینو او فارغانو د مهارتونو لوړول | د څانګو پراختیایي پلان |
| 15 | د ټولې سره د مرستې پراختیا | پوهنیز ډګر کي د رول زیاتوالی | د پوهنځی پراختیایي پلان |

| 16 | زېربنايي پراختيا | د اداري شعباتو پراختيا | د پوهنځی کلنی تطبیقي/ پراختيايي پلان |
|---|---|---|---|

# اکشن پلان

| شماره | فعالیت | موخه | مسؤل | د اجرا ځای | سرچيني | د کار د اجرا وخت | | | | | | | | | | | | ټول وخت | د کار شروع | د کار ختم | اغیزي | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | وری | غويی | غبرګولی | چنګاښ | زمری | وږی | تله | لړم | لیندی | مرغومی | سلواغه | کب | | | | د برتامې اغیز | کتني |
| ۱ | د ظرفیتونو لوړول | د علمي، اکاډمیکو او اداري کارکوونکو ظرفیتونه لوړول | د پوهنځی /څانګي | د ښووني او روزني پوهنځی | ځای، قرطاسیه او ترینر | | | | | | | | | | | | | دوامداره | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | د کړنو پر تاکلي وخت د ترسره کولو په موخه په کارونو کي د غیر حاضري کموالی او پر کار د تمرکز زیاتوالی. | |
| ۲ | د کیفیت تضمین د خدماتو پیاوړي کول او اکډمیک اعتبار اخیستل | د نړیوال اعتبار اخیستلو په موخه د تولو کړنو او فعالیتونو پر وخت او منظمه توګه تر سره کول او د اعتباردهي د هر پړاو په منظمه توګه تی کول. | د پوهنځی رياست/ د تضمین کیفیت اصلي او فرعي کمیټه | د ښووني او روزني پوهنځی | بشري سرچيني او مستندات | | | | | | | | | | | | | دوه کاله | ۱۴۰۱ وری | ۱۴۰۳ کب | د فعالیتونو د مؤثریت او د اوسنیو ستونزو د حل په موخه د همرغۍ زیاتوالی. | |
| ۳ | د تحصیلي نصاب اصلاح او څارنه | د محصلانو د ښې روزنې په موخه د تحصیلي نصاب ټول مواد وخت په وخت کتل، نوي کول او تر محصلانو رسول. | د پوهنځی/د نصاب کمیټه | د ښووني او روزني پوهنځی | بشري سرچيني | | | | | | | | | | | | | د هر سمستر پیل او پای | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | د نوي او افډیټ تدريسي موادو اماده کول او له عصري علمي پرمختګونو څخه استعفاده کول. | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴ | د علمي څېړنو پراخول | د ټولني د شته ستونزو د حوارې اوهم د پوهنتون او پوهنځۍ د اکاډمیک فعالیت د ترسره کولو په موخه وخت په وخت د علمي څېړنو ترسره کول. | د پوهنځۍ ریاست/د علمي څېړنو اصلي او فرعي کمېټه | د ښوونې او روزنې پوهنځۍ | د اړتیا مطابق | | | | | | | | | | | | | پنځه کاله | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | د سهولتونو ایجاد د جامعې ټولو افرادو ته | |
| ۵ | د اداري کارمندانو ظرفیت لوړول | د کارمندانو په کاري ظرفیت کې لوړوالی راوستل. | پوهنځۍ/ځانګې | د ښوونې او روزنې پوهنځۍ | بشري او فزیکي سرچینې | | | | | | | | | | | | | پنځه کاله | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | د اکاډمیکو چارو د مؤثریت د لا ښه کېدو په موخه. | |
| ۶ | اداري، تخنیکي او تکنالوژیکي پراختیا | د اداري اغېزمنتیا څخه ډاډ ترلاسه کول. | د برېښنايي زده کړو کمېټه/پوهنځۍ | د ښوونې او روزنې پوهنځۍ | مالي او تخنیکي سرچینې | | | | | | | | | | | | | څلور کاله | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۵ | د نوي او عصري وسایلو کارونه په اداري او تدریسي برخه کې. | |
| ۷ | د عوایدو پراختیايي پروګرامونه | د عوایدو د زیاتوالي ممکن کول | د پوهنځۍ/دیپارتمنتونه | د ښوونې او روزنې پوهنځۍ | ځای، قرطاسیه، ټکنالوژي او بشري | | | | | | | | | | | | | پنځه کاله | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | د اکاډمیکو فعالیتونو د ثبات او تضمین لپاره. | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | د تکنالوژۍ څخه استفاده | د وخت او زمان د غوښتنې مطابق په تدریس کې او هم د اداري چارو د پرمخ بیولو لپاره او هم په انلاین ډول د تدریس وړاندې کول. | د پوهنځۍ ریاست/ د برښنایي زده کړو کمېټه | د ښوونې او روزنې پوهنځۍ | مالي او فزیکي سرچینې | | | | | | | | | | | | | دوامداره | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | د تدریسي بهیر د لا مؤثریت په موخه. | |
| ۹ | د ډونرانو جلبول | د عوایدو د لوړتیا په موخه | د پوهنځۍ /ځانګې | د ښوونې او روزنې پوهنځۍ | بشري سرچینې | | | | | | | | | | | | | څلور کاله | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۵ | د مصارفو د جبران په موخه. | |
| ۱۰ | د نوو څانګو ایجادول | د خدماتو پراخول او د ټولنې تقاضا ته په درست ډول ځواب ویل او د لوړو زده کړو د ساحې پراختیا | د پوهنځۍ ریاست | د ښوونې او روزنې پوهنځۍ | د اړتیا مطابق | | | | | | | | | | | | | درې کاله | ۱۴۰۳ | ۱۴۰۵ | د ټولنې د اړتیا مطابق د لوړو زده کړو ته د ټولنې د وګړو د لاس رسي په موخه. | |
| ۱۱ | د پوهنځۍ په سطحه د اړتیا وړ کتابونه درلودل | د مطالعې د ساحې پراخول د مطالعې د تشویق او پراختیا په موخه | د تحصیلي نصاب کمېټه/ پوهنځۍ | د ښوونې او روزنې پوهنځۍ | مالي او فزیکي سرچینې | | | | | | | | | | | | | دوامداره | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | د پوهاوي او د معلوماتو د لېږد په موخه. | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۲ | د اداري تشکيل پوره کول | د معيارونو تطبيق او د ښه خدماتو وړاندي کول | ډيپارټمنټونه/پوهنځۍ | د ښوونې او روزنې پوهنځۍ | مالي سرچينې | | | | | | | | | | | | | دوامداره | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۵ | | |
| ۱۳ | د هيواد د بيلا بيلو پوهنتونو سره د تفاهم ليکونو لاسليکول | د ظرفيتونو لوړول او د تجربو شريکول | د پوهنځۍ او پوهنتون رياست | د ښوونې او روزنې پوهنځۍ | د اړتيا مطابق | | | | | | | | | | | | | دوه کاله | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۳ | د ظرفيتونو د شريکولو په موخه | |
| ۱۴ | برېښنايي زده کړو ته پراختيا ورکول | د محصلانو ښه روزنه او د برېښنايي زده کړو د وسايلو اماده کول | د برېښنايي زده کړو کمېټه | د ښوونې او روزنې پوهنځۍ | مالي او فزيکي سرچينې | | | | | | | | | | | | | دوامداره | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | د چارو د چټکوالي او منظموالي په موخه. | |
| ۱۵ | د پوهنځۍ او څانګو اعتبار اخيستني ته اماده ګي | د پوهنځۍ او څانګو د اعتبار سرتيفيکيټ تر لاسه کول. | د کيفيت تضمين کمېټه | د ښوونې او روزنې پوهنځۍ | تدريسي، مالي او اداري | | | | | | | | | | | | | دوه کاله | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۳ | د خپلو ټاکلو اهدافو د تر لاسه کولو په او د چارو د ښه تنظيم او ستونزو د حل په موخه. | |

## د ښوونې او روزنې پوهنځۍ د ستراتيژيک پلان د بودیجې تدوین

| شماره | پروګرام | لګښتونه | | | | | | عواید | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | 1401 | 1402 | 1403 | 1404 | 1405 | توټل | 1401 | 1402 | 1403 | 1404 | 1405 | توټل |
| 1 | د اداري کارمندانو د ظرفیتونو لوړوالی | 5,000 | 5,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 40,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 2 | د تشکیلاتو پراختیا | 70,000 | 100,000 | 100,000 | 400,000 | 500,000 | 1,170,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 3 | عواید موندونکي پراختیايي پروګرامونه | 0 | 0 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 30,000 | 0 | 0 | 50,000 | 80,000 | 100,000 | 230,000 |
| 4 | د محصلانو او فارغانو د مهارتونو د ودې پروګرام | 0 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 40,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 5 | د علمي څېړنو پراختیا | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 50,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 6 | د پوهنځۍ او څانګو اعتبار اخیستنه | 10,000 | 20,000 | 0 | 0 | 0 | 30,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 7 | د کمیټو ایجاد | 50,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 90,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 8 | د جذب کمیت زیاتوالی | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 20,000 | 20,000 | 70,000 | 100,000 | 300,000 | 600,000 | 1,200,000 | 1,600,000 | 3,800,000 |
| 9 | د اداري شعباتو پراختیا | 0 | 50,000 | 100,000 | 100,000 | 100,000 | 350,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 10 | د تدریسي ټولګیو پراختیا | 0 | 0 | 50,000 | 75,000 | 100,000 | 225,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 11 | د هوکړه لیکونو او تواميتونو لاسلیکول | 10,000 | 10,000 | 0 | 0 | 0 | 20,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 12 | د علمي ظرفیت لوړولو پروګرامونه | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 20,000 | 30,000 | 80,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 13 | د تخنیکي شعباتو پراختیا | 0 | 0 | 0 | 100,000 | 100,000 | 200,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 14 | د کتابتون پراختیا | 10,000 | 10,000 | 20,000 | 20,000 | 50,000 | 110,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 15 | د الکترونیکي زده کړو پراختیا | 0 | 10,000 | 10,000 | 20,000 | 20,000 | 60,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 16 | د کمپیوټرونو پراختیا او معیاري والی | 0 | 10,000 | 10,000 | 30,000 | 30,000 | 80,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 17 | د معیاري ډیټابیس ایجاد | 0 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 40,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 18 | د پوهنزانو د جلب پروګرامونه | 0 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 40,000 | 0 | 200,000 | 300,000 | 400,000 | 600,000 | 1,500,000 |
| 19 | د عوایدو پراختیايي پروګرامونه | 0 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 40,000 | 0 | 50,000 | 100,000 | 100,000 | 100,000 | 350,000 |
| 20 | په پوهنیز ډګر کې د رول زیاتوالی | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 10,000 | 50,000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| 21 | **ټوله پراختیايي لګښتونه/ناخالص عواید** | 195,000 | 305,000 | 400,000 | 875,000 | 1,040,000 | 2,815,000 | 100,000 | 550,000 | 1,050,000 | 1,780,000 | 2,400,000 | 5,880,000 |
| 22 | **عادي کلني لګښتونه / متفرقه عواید** | 250,000 | 300,000 | 500,000 | 800,000 | 1,000,000 | 2,850,000 | 5,000 | 20,000 | 50,000 | 100,000 | 100,000 | 275,000 |

| | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 23 | توله لګښتونه / مجموعي ناخالص عواید | 445,000 | 605,000 | 900,000 | 1,675,000 | 2,040,000 | 5,665,000 | 105,000 | 570,000 | 1,100,000 | 1,880,000 | 2,500,000 | 6,155,000 |
| د لګښتونو او ناخالصو عوایدو میزان | | | | | | | 490,000 | | | | | | |

**څارنه او ارزیابي:**

د یو څانګړي میکانیزم له لاري به په ربعه وار او کلني شکل ارزیابي صورت نیسي.

**پایله:**

د ښوونې او روزنې پوهنځۍ دا تکمیل سوی او ترتیب سوی ستراتیژیک پلان چي د (1401-1405) ل ل **کال لپاره چمتو سوی دی.د ښوونې او روزنې پوهنځۍ** هڅه کوي چي په ستراتیژیک پلان کي ځای پر ځای سوي موارد په خپله ټاکلې نیټه عملي کړي. د ښوونې او روزنې پوهنځۍ به کوښښ وکړي چي د پوهنتون د موجوده ستراتیژیک پلان په نظر کي نیولو سره سم د پوهنځۍ اړوند د فزیکي رغوني او معنوي پیاوړتیا لپاره امکانات چمتو کړي .

د دې چارې د ترسره کیدو لپاره د پوهنځۍ د ځوانانو استادانو کوښښونه پوهنځۍ ته د خوښۍ زیرۍ او هیله بخښونکې دی.

تر څو د ښوونې او روزنې پوهنځۍ د هیواد ،سیمې او منطقې په سطحه مطرح او پر معیار ولاړه وي او د هیواد زوریدلي ولس هیلي او غوښتني چي د ادبیاتو په برخه کي یې لري په پوره صداقت او ایمانداری سره ور پوره کړي او د وطن د علم پروره بچیانو علمي تنده ورخړوبه کړي.

**تصویب او تائید:**

پورته ستراتیژیک پلان د پوهنځۍ د ستراتیژیک پلان د کمېټي د (1400/12/15) نېټي په (08) نمبر غونډه کي تائید او تصویب سو.

د ستراتیژیک پلان د کمېټي د مسؤل نوم: نقیب الله حمزه. لاسلیک..............................او نېټه: / / 1400

پورته ستراتیژیک پلان د پوهنځۍ د علمي شورا د ( /1401/01) نېټي په ( ) نمبر غونډه کي تائید او تصویب سو.

د پوهنځۍ د علمي مسؤل نوم:نقیب الله حمزه. لاسلیک..................................نېټه: / 1401/01 او مُهر...................................

پورته ستراتیژیک پلان د پوهنتون د علمي شورا د ( /1401/01) نېټي په ( ) نمبر غونډه کي تائید او تصویب سو.

د پوهنتون د علمي شورا د رئیس نوم: ډیپلوم انجنیر محمود «سنګین» لاسلیک د بُست پوهنتون مُهر